

# له ژونده مې دا زده کړل

## د چارلي چاپلين

- پېژندنه
- جالب حقايق
- غوره وياوې

پرمختګ ويب پاڼه



# لومړۍ برخه

# د چارلي چاپلين لنډه پېژندنه

چارلي چاپلين چې خپل نوم يې سر چارليس سپنسر چاپلين و، د ۱۸۸۹ز کال د اپريل په ۱٦مه نېټه، په لندن کې زېږېدلی او د ۱۹۷۷ز کال د ډسمبر په ۲۵مه نېټه په سويزرلنډ هیواد کې مړ شوی دی.

چاپلين انګليس ممثل، د فلمونو لاربنود، ليکوال او کمپوزر و او د کومېډي فلمونو له امله يې په نړۍ کې ځانګړې شهرت وموند.

چاپلين ماشومتوب له خپلې مور سره تېر کړ. مور يې سندرغاړې وه او هانا نومېدله. وروسته

يې چې مور او پلار سره جلا شول، چاپلين پخپله پنځه کلنۍ کې د تمثيل پر سټېج را ښکاره شو.

د چارلي مور رواني ناروغي لرله او وروسته يې چې ناروغي زياته شوه په يوه جلا ځای کې بستره شوه. چارلي او ورور يې سډني لومړی ځينو کارځايونو او بيا يوه لري ښوونځي ته ولېږل شول چې همالته ژوند وکړي.

چارلي د خپلې مور له شهرت او اړيکو په ګټې اخيستو په ۱۸۹۷ز کال کې مسلکي ممثل شو. په ډېرو سټېج ډرامو کې يې کار وکړ او

بالاخره يې د ويليم جيليټ په فلم شرلاک هومز (۱۸۹۹) کې يو کوچنی رول ترلاسه کړ. دلته بيا له يوه سرکس سره هم يوځای شو.

کله چې په ۱۹۱۳ز کال کې امريکا ته لاړ، هلته يې کارنو شرکت سره قرارداد وکړ او د ميک سينيټ په کميډي فلمونو کې را څرګند شو.

په لومړي ځل يې په ۱۹۱۴ز کال په (Making a Living) فلم کې کار وکړ، خو ويل کېږي چې دغه فلم يې ناکام شو. په همدې کال چارلي چاپلين ځان ته ځانګړي

کالي، خولۍ او برېت جوړ کړل او وروسته يې بيا همدا بڼه په ټولو فلمونو کې را څرګندېدله.



# دویمه برخه

# چارلي چاپلین په اړه ځینې جالب او ناویل شوي حقایق

## 1. چارلي چاپلين په ماشومتوب کې تمثيل پيل کړی و

د چارلي چاپلين مور هانا چاپلين او پلار چارليس چاپلين سره طلاق نه و اخيستی، خو په ۱۸۹۱ ز کال کې هله سره جلا شول چې چاپلين يوازې ۲ کلن و. پلار يې په ۳۷ کلنۍ کې د شرابو څښلو له امله مړ شوی و.

## 2. چاپلین ډېر زر شتمن شو

چاپلین په ۱۹۱۴ز کال کې لومړی فلم جوړ کړ. یو کال وروسته یې یوه شرکت سره د اونس په ۱۲۵۰ ډالره معاش او ۱۰٬۰۰۰ امتیازي معاش خبره وکړله. یو کال وروسته یې د اونۍ په ۱۰ زره ډالر معاش او ۱۵۰ زره ډالر امتیاز قرارداد وکړ. تر ۱۹۱۸ کال پورې چارلي په شتمنو خلکو کې حسابېده او دا شتمني یې هله زیاته

شوه چې یوه سندره یې د یو میلیون ډالر امتیاز په مقابل کې وویله.

### 3. چاپلین کمپوزر هم و

سره د دې چې چارلي به د یوه ستر کومیډي ممثل په توګه په یادونو کې پاتې وي، خو نوموړی د موسیقۍ تکړه کمپوزر هم و. له موسیقۍ سره یې په ځوانۍ کې مینه پیدا شوې وه او د پیانو او ایلن په شمول یې ځینې نور آلات غږول هم زده وو. سره د دې چې

د موسیقۍ په برخه کې یې رسمي زده

کړې نه لرلې.

## 4. چاپلین ځلور ودونه کړي وو

چارلي په ښځو کې ډېر زیات محبوبیت درلود او ځلور ودونه یې کړي وو. ټولې ښځې یې تر ده کشرې وې او درې خو حتی نوې پېغلوټې وې. چارلي په ۱۹۱۸ز کال کې له ۱۷ کلنې مېلډرېډ هاریس سره واد وکړ، خو دوه کاله وروسته سره جلا شول. بیا یې په ۱۹۲۴ز کال کې له ۱٦ کلنې لېټا ګرې سره واده وکړ، خو په ۱۹۲۷ کې سره جلا شول. درییم ځل یې له

پاولیټ گودارد سره په ۱۹۳٦ز کال
کې واده وکړ او تر ۱۹۴۲ز یې دوام
وکړ او بالاخره یې په ۱۹۴۳ کال کې
له ۱۸ کلنې اووا اونیل سره واده وکړ
چې د عمر تر پایه ورسره پاتې شو.

**5. چارلي په فلم کې د غږ (خبرو) مخالف و**

د چارلي فلمونه بې غږه وو او دی د دغه سبک سرلاری هم و، ډېر کله به چارلي پخپله په فلم کې د غږ او حتی موسیقۍ مخالفت کاوه، خو وروسته يې بيا په فلمونو کې موسيقي ور زياته شوه او ۱۹۴۰ کې يې په (لوی ديکتاتور) فلم کې غږ هم راغی.

### 6. په خپل کار کې ډېر ځیرک او دقیق و

چارلي چاپلین په خپل کار کې ډېر تکړه هم و، خو دا هم ویل کېږي چې په همدې اندازه دقت یې هم کاوه. هر څه به یې چې کول ډېر زیات دقت به یې په کاوه او ټوله خواري به یې دا وه چې کار په ښه ډول ترسره شي. په یوه فلم کې ورسره ویرجینیا چیریل کار کړی و او یوه جمله یې باید ویلی وای، دا جمله یوازې (ګلونه ښاغلیه!) وه،

خو چارلي په دې کار کې دومره دقیق و چې دغه جمله یې پرې ۳۴۲ ځله تکرار کړې وه. پخپله یې هم څو دقیقې لنډ فلم په ډېر زیات وخت کې برابروه.

## 7. پر چارلي د کمونیزم تور و

په چارلي دا تور هم و چې کمونیست دی او له شوروي اتحاد سره خواخوږي لري. د شوروي اتحاد د خواخوږ کوم لیست چې د هغه وخت حکومت جوړ کړی و، د چارلي چاپلین نوم هم په کې و.

## 8. ۲۰ کاله بندیز

چارلي له شل کلن بندیز وروسته په ۱۹۷۰ ز کال کې بېرته امریکا ته ستون شو. د هماغه کمونیزم د تور له امله چارلي شل کاله په امریکا بند و او حتی پر ځینو فلمونو یې هم بندیز لګېدلی و. تر دې چې په ۱۹۷۰ کال کې له شل کلن بندیز وروسته بېرته امریکا ته ستون شو او هلته ورته د درناوي په توګه د اوسکار افتخاري جایزه ورکړل شوه.

## 9. د چارلي چاپلین مړی غلا شوی و

چارلي چاپلین چې په ۱۹۷۷ز کال کې په سویزرلنډ کې د ۸۸ کالو په عمر مړ شو، په سویس هدیره کې له خښېدو نږدې یو کال وروسته یو څو غلو له قبره د چارلي هډوکي پټ کړل او بیا یې د دې په مقابل کې د نوموړي له مېرمنې ۶۰۰ زره ډالر وغوښتل. ادا غله بیا ونیول شول او د چارلین هډوکي بېرته هماغه هدیره کې خښ

شول. دا ځل یې له تابوت سیمټېي دیوالونه تاو کړی شول چې بیا یې څوک هڅوکي پټ نه کړي.

## 10.د چارلي چاپلين له کوره موزيم جوړ شوی

د چارلي له مرګ ډېر کلونه يې وروسته کور د دولت له لوري په ميراثونو کې شامل شو او په ۲۰۱٦ کال کې د چارلي نړيوال موزيم پرانيستل شو. په دې موزيم کې د چارلي له ماشومتوبه نيولې تر د عمر د وروستيو پورې ټول مزل انځور شوی دی. کور هماغسې جوړ شوی لکه څنګه چې چارلي او د ده کورنۍ جوړ کړی و.



# درېيمه برخه

# د چارلي چاپلین غوره ویناوې



**د رښتینې خندا لپاره باید درد وزغمې او لوبې پرې وکړې.**



**ژوند له نږدې کمېډي (خندا) او له لرې**

**تراژيدي (ژړا) ده.**



**له شر په دې ډکه نړۍ کې هېڅ شی تلپاتې نه دی، حتی زموږ درد او خفگان هم.**



**ژوند آزاد او ښایسته کېدای شي، خو موږ لاره ورکه کړې ده.**



**مینه له دې هستۍ لرې په یوه داسې نړۍ کې ژوند دی چې د انسان په لاس د طبیعت د یووالي لپاره جوړه شوې ده. کمال ته هله رسېږو چې یو بل سره یو ځای شوو او یو واحد عنصر رانه جوړ شي.**



**په باران کې ګرځېدل مې خوښېږي، ځکه هېڅوک مې په کې اوښکې نه شي لیدلای.**



**انسانان هر څوک ژړولای شي، خو یوازې نابغه انسانان یې خندولای شي.**



**تر ټولو ښه ملگرې مې هنداره ده، ځکه زه چې ژاړم، هغه را پورې نه خاندي.**



**که څوک دې ورته پرېږدي، ژوند ډېر ښایسته کېدلای شي.**



**وخانده، حتی که زړه دې زخمي وي**

**وخانده حتی که په ماتېدو هم يې**



له ځان سره مې چې مینه کوله، بیا مې په تېر وخت کې ژوند نه کاوه او د راتلونکې غم مې پرېښوده، اوس یوازې (اوسني وخت) کې یم. دا هغه وخت دی چې هر څه په کې کېږي. زه همدا نن د هرې ورځې ژوند کوم او همدې ته ژوند وایم.



**له ځان سره مې چې مينه پيدا شوه**

**د وخت ضايع کول او د راتلونکي لپاره لوی**

**پلانونه جوړول مې پرېښودل. اوس يوازې هغه**

**کارونه کوم چې ماته ژوند او خوشحالي**

**راکوي. هغه کارونه چې زما خوښېږي او زړه**

**مې آراموي. همدې ته آرامتيا وايم.**



**له ځان سره مې چې مينه پوه شوه**

**پوه شوم چې ذهن مې راته مزاحمت کولای او**

**ما ناروغولای شي، په دې خاطر مې خپل ذهن**

**له زړه سره يو ځای کړی او دغه ارزښتمن**

**اتحاد نن خوښ او هوښيار زړه بولم.**



**له ځان سره مې چې مينه پيدا شوه**

**متفاوت ژوند ته د رسېدو هيله مې پرېښودله.**

**ومې ليدل چې څه مې شاو خوا ته دي، دا**

**ډول مې د ودې کولو لامل کېږي او زما همدا**

**وده ذهني بلوغ بولم.**



**ژوند هغه ننداره (ډرامه) ده چې د تمرين امکان په کې نشته.**



**مخکې له دې چې پرده را وځړېږي او ډرامه د نورو خلکو له هڅونې او چکچکو پرته پای ته ورسېږي، نو سندرې ووایه، وژاړه او په کړس وخانده!**



**بالاخره هر څه یوه ټوکه ده.**



**ما د ژوند ډېرې سختۍ لیدلي، خو شونډې مې پر دې نه پوهېږي، ځکه دوی تل خندلي دي.**



**وخانده او له نړۍ د هېڅ غبرګون تمه مه لره.**

**دا نړۍ به یوه ورځ دومره پښېمانه شي چې ستا د خندا پر ځای به دې آن کنځلو ته هم نخښېږي.**



**که یوازې وخاندې هم پوه به شې چې ژوند په کولو ارزي.**



**که خوشحاله وې، نو ورو وخانده چې غم خفه**
**نه شي او که خفه وې، نو ورو وژاړه چې**
**خوښي نهیلي نه شي.**



**ماتېدل خفګان نه لري، انسان باید دومره زړور وي چې له ځانه ناپوه ساز کړی شي.**



**واده کول داسې دي لکه بازار ته تلل، چې پیسې، اړتیا او اراده ونه لرې، بازار ته مه ځه.**



**نړۍ دومره پراخه ده چې ټولو مخلوقات په کې ځايږي، نو ته د بل چا ځای مه نیسه، هڅه وکړه چې ځان ته خپل ځای پیدا کړې.**



**نیکمرغي د دې او بلې بدمرغۍ ترمنځ واټن دی.**



**که خیانت درسره وشو، پوه شه چې بیه دې لوړه وه.**



**له دښمن يو ځل ووېرېږه او له دوسته زر ځل.**



ښه هنرمند هغه دی چې له (هېڅ) سوژه جوړه کړي.



**حتی د خوښۍ تمثیل هم نور خلک خوشحالوي.**



**انسان که وږی او بیوزله وي، هم تر دې ښه**
**دی چې سپک او بې عاطفې وي.**



**که ژوند درته د ژړا سل دلیله درکړل، تاسې ورته د خندا زر دلیله ورکړئ.**



**که دښمنان خفه کوئ، له دوستانو سره ښېګڼه وکړئ.**



**مهربانه اوسه، هر چا سره چې مخ کېږې،**

**موسکا ورته وکړه، ته نه پوهېږې چې په**

**انسانانو څه تېرېږي، يوازې ستا موسکا ورته**

**ښايي د يوې خزانې په څېر وي او هغوی دغې**

**خزانې ته ډېر زيات محتاج وي.**

له ژونده مې دا زده کړل چې

په پيسو کور اخيستى شوو، خو کورنۍ نه؛

کټ اخيستو شوو، خوب نه؛

ساعت اخيستى شوو، وخت نه؛

مقام اخيستى شوو، درناوى نه؛

کتاب اخيستى شوو، پوهه نه؛

دوا اخيستى شوو، روغتيا نه؛

کور اخيستى شوو، ژوند نه؛

او بالاخره

په پيسو زړه اخيستى شوو؛ خو مينه نه!



**د مينې او خوښېدو توپير**

**که گل مو خوښ شو، نو له ډنډر يې را ماتوئ؛**

**خو که گل سره مينه لرئ، هغه گل پالئ او اوبه ورکوئ**

**همدا د مينې او خوښېدو ترمنځ توپير دی**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**کله کله چې انسان یوازین شی غواړي،**

**هغه لاس دی چې دده لاس ونیسي او**

**هغه زړه دی چې دده په زړه پوه شي**



**له ژوند مې دا زده کړل چې**

**زخمونه د وخت په تېرېدو نه، د مينې په کولو رغيږي.**

www.parmakhtag.com



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**تر څو چې مئین نه شوو، هېڅوک راته پوره نه**

**ښکارېږي.**



**تر ټولو لوی ارمان مې دا دی چې**

**له مړينې مخکې مې يو ځل بيا مور ته ووايم**

**چې (راته گرانه يې!)**



**زما خفګان ښايي د چا د خندا لامل شي،**

**خو زما خندا بايد**

**د هېچا د خفګان لامل نه شي**



**یو وخت به پوه شې**

**چې که خندلای شې، نو ژوند لا هم ارزښتمن دی.**



**زه کلونه وردېدم او کلونه مې وخندل داسې نه ده چې ګني خفګان مې نه درلود، خو یوازې په دې خاطر مې خندل چې ښایي زما د خندا له امله یو بل کس ژوند ته هیله مند شي.**



**ما ډېره هڅه وکړه چې په خپلو ټوکو خلک پوه کړم، خو هغوی یوازې وخندل**



**په کومه ورځ چې دې ونه خندل، هغه ورځ دې ضایع کړې ده.**



**له ژونده مې دا زده کړل**

**چې کله له چا سره مخ کېږم، هغه مې خندا ته**

**ډېر کلک په تمه وي.**



**ښايي ژوند هغه مېله نه وي چې تا غوښتله، خو اوس چې ورته راغلی يې، نو ښه په کې ونخېږه.**



**د ژوند یو تضاد دی چې ناسم کار راسره په ډېر**

**ښه سم وخت کې کوي.**



**زما ستونزه دا وه چې ما به خندل**

**هغوی به ویل چې زه گني نه خوږېږم**

**په دې خاطر به یې گوزارونه لا ډېر قوي کړل.**



**د نړۍ تر ټولو ښه الماس لمر دی چې له ښه مرغه د هر چا په غاړه ځلیږي.**



**تر ټولو ښایسته تاج چې انسان یې په سر ږدي،**

**هغه هم په سره اور کې پخیږي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**لوی فکر انسان سره هله پیدا کېږي چې د دې**

**فکر پیدا کېدو ته ژمن وي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**یوازینی کس چې زه خوشحاله کړی یم، هغه**

**کس دی چې راته یې ویلي: (نن دې خوشحاله**

**کړم.)**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**مهربانه اوسېدل، له برحقه اوسېدو ښه دي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**د ماشوم له لوري ډالۍ باید هېڅکله رد نه شي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**چا سره نوره هېڅ مرسته نه شم کولای، دعا**

**ورته وکړم.**

www.parmakhtag.com



**له ژونده مې دا زده کړل چې مهمه نه ده چې ژوند له تاسې څومره جديت غواړي، خو موږ ټول داسې ملګرو ته اړتيا لرو چې يوه شېبه ورسره له جدي حالته لرې شه وخاندو.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**له پلار سره په ماشومتوب کې د اوړي په یوه**

**شپه کې ګرځېدل، د لویوالي تر ټولو خوندور**

**کار دی.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې ژوند يوه کنده او څومره چې يې ښخ ته ور نږدې کېږو، هومره مو سرعت زياتېږي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**پیسې انسان ته شخصیت نه شي ورکولای.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې یوازې ورځنۍ کوچنۍ پېښې ژوند د لیدو وړ کوي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**خدای هر څه په یوه ورځ نه دی پیدا کړي، نو**

**زه ولې داسې فکر وکړم چې هر څه په یوه**

**ورځ ترلاسه کولای شم؟**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**په حقايقو سترګې پټول، حقايق نه بدلوي.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**ژوند سخت دی، خو زه ترې ډېر سخت (کلک) یم.**



**له ژونده مې دا زده کړل چې**

**فرصت هېڅکله نه ضایع کېږي، بلکې یو بل**

**کس ته ورځي.**